# بیوسي

د عبدالهادي ریشاء

د اشعارو دوهمه

مجموعه

۱۳۷۴

Ketabton.com

دمجموعې نوم – بېوسي

شاعر – عبدالهادي ريشاد

دليکلو کال – ۱۳۷٤ هـ.ش

دچاپ ځای – کراچي

دچاپ شمير – پنځه سوه ټوکه

خطاط – عبدالناصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء

دا د بیوسی مجموعه د هغو کوږداګو، زوی مړو او مور مړو پاک نیت ته چي د نابښادو اولسو د ښادیو صادقانه غوښتونکي وه او په دي ارمان د خپلو مغزنو ککریو سره ډک زړونه د ځمکي په غېږ وروستل سوي دي اهداء کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

درنو لوستونکو!

ما د پښتو کړږو د لمړۍ شعري مجموعې په سرکې ژبه کړې وه چې که مې توان وموند د وهمه مجموعه به هم د خپره سره چاپ کم . دادئ اوس وتوانېدم چې د خپلو اشعارو د (بېوسي) مجموعه د چاپه راوباسم او ستاسي حضور ته یې وړاندې کړم. زه پسر خپل بول و دریدم، خپله ګایه مې داده ترسره کړه.

ګرانو لوستونکو!

ترهغه ګړیه پورې ترڅو چې د پښتو کړږو د مجموعې په باب ماته د محترمو استادانو، شعر پوهانو او عامه خلکو له خوا مکتوبي، غیابي، حضوري د تائید او تنقید حالونه راتلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ویونکي کور ښادي به څه پکښې وواېي. نو مي ولی په هوا زړه مي کښانده وو. کله چي پوه سوم چي د پښتو کرېزو مجموعه بېخي چاله نظره نده غوړځولې، نه يې يو مخیځه (نو) پر کش کړې دی، وروسته مي نو پرځان یک سنده کړه. زړه مي پر پښتني سو. یو څه ناڅ مي پر کښېنوست. چاچي زه د پښتو کړزو د مجموعې په تائید سره مکتوباً، غیاباً او مخامخ غټولی یم. دوی دي د سیالانو سر سي. زه يې ممنون کړم.

او هغه کوړ ښادو چي د مجموعې پر بعضي ځایو تنقید نیولی دی. د هغو تر دا پاک دین وګړزم چي پر یوه مخ يې نده کړلې. او هغه ښادمنو او صاحب نظرانو چي ښه نظر او لار ښوونه يې راته کړېده. دوی ته سلامه دي، غیبي سپاره دې مله وي، کوريې ودان.

ښاغلو لوستونکو!

مابه دغه د (ښوسي) مجموعه د وخته لا چاپ کړې وای. خو زه د ژوند په نورانګل اخته وم، د بلي خواچي مي د چاپ د پاره خالړي څه غرانونه تول کړي وه. په هغه بنې د ګرانۍ داسي هښه، باد ښوتی چي د غرانو زېږه سکه يې داسي ور سولولې وه چي غران د غزارزش خوښه کوي د خوشکۍ تروړن يې لا وزن سپک سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د چاپ د پاره نه بسېدل، نوره لېږه، د ېږه مانه درلودل چې د هغه ځنځه یوځه راواخلم او د چاپ مصرف ته یې ورکړم. نو اریان، په اریان پاته وم، په چاپ پورې یې اوګاره وم. یو چاته چې مې امید درلود هغه ته چې مې وریاده کړه هغه هم تله تېره کړه، ځان یې وځراوه، نه و ټوخېدی. په داسې وخت کې نو ما وارو سړي خاځخا واسرنګه کېږي. دا مې هم ځان ته عار باله چې ریښا دې دیوې مجموعې د چاپ د پیسو په خاطر ځان د اوومحمد وپوروړی کړي. دا مې هم نسوای منلای، نه مې وربلل چې لیکلې چاپ ته آماده مجموعه دې د غه سې نا چاپه پاته سې. باره مې زړه راغوند کړی. ما ویل "څه تتوکل یې پرهغه چې بارانونه اوروي".

راولاړسوم، پرچاپ خانو وګرزېدم. ډېرې چنې مې و وهلې. په ارزان بیه کاغذ پیسې مې بازارونه مټ کړه. په چونګې، چونګې د صورت په سوهانګې مې دونه پیسې برابرې کړې چې دا دبپوسې مجموعه په چاپ کړم، او ستاسې حضورته یې وړاندې کړم. ما خودا کارد ـ نس په خوزو وکې. اوس نو پرتاسې ده چې نوکې وخت وروباسئ او دیپلا ویلو زحمت پرځان تېر کړئ.

دا چلي ما د بېوسۍ په د غه مجموعه کې
سل (۱۰۰) شعرونه وکښل.

د دې کراستي يا گدلي شنل په تاسي اړه لري.
زه به تر هغو پورې غابښ وچيچم، چې تاسي يې توري و
سپيني شنل سوي ونه وي خپل د قضاوت د ترازوو پلو
ته ورغورځوئ.

تاسي ته به ياد وي چې د دې شعري مجموعې شعرونه
د ډېره وخته ماته پراته وه. ما د پښتو کرزو د مجموعې په سر
کې لا دا خبره ستاسي تر غوږ تېره کړې وه. د هغه جملې
څخه مي بعضي اشعار د چاپ د پاره د لته رااېل
کړه. او بعضي نوري بې لسکه :- د
لوی استاد علامه عبدالحي (حبيبي) مرثيه چې د (پښتو ټولنې)
په مجله کې دا کادمي له خوا نشر سوې ده. د عبد الباري (اشنا)
ويرنه د کندهار په مجله کې چاپ سوې ده. برعلاوه (۵۰۰) پاڼي
يې گستنتر، او نشر سوي هم دي. د محمد گل (نوري) د مړينې
په يوه تلين کې چې د سرحداتو او قبائيلو د وزارت له خوانيو-
ل سوی وو، ما هلته هم د ده په ياد يو شعر وواید چې البته
نشر سوی به وي. د جمال عبد الناصر مرثيه چې ما د ده
د مړيني په دوهمه ورځ وويل، بيا مي و مصرته د ده دفتر
ته وليږل. گاگارين چې لمړی ځل د فضاء په سفر ولاړ، او بيرته



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

را کښته سو. د ده په افتخاري هم په هغه شپه شعر جوړ کړی. او د ده د فترته مي پس له څه وخته واستوئ چي خبر يي د (ازوستيا) روسي جريدې خپور کړی. د لمړي پلا دپاره چي (آرم سترانگ) امريکايي پر سپوږمۍ قدم کښېښود، ماد ده په شان کي هم يو شعر جوړ کړی. په يوه پيته کي مي ثبت کړی، نو گوره چي هغه پيته به اوس چيري وي؟ د غسي زمانو ر شعرونه په مختلفو جريد و په مختلفو وختو کي خپاره سوي دي. لکه :- د اولسي جرگي په مجله کي، د سولي د جبهې په جريده کي، د اوسني ليکوالو په دريم ټوک کي او نورو اخبارو کي چي زما سره يې نه تاريخ سته نه مي شعرونه پياد دي.

خو اوس هم يو څه شعرونه د توَمني په اندازه راته پاته دي. که نور سره براي سوه بيا به نو د خيره سره خبري کوو. چي بيا د بلدي د گوروان کاندرا- ونه سي. اوس يې د چاپ وعده نه کوم.

خوږو دوستانو!

که ستاسو دا خيال وي چي د دې مجموعې اشعار به دونه شيريني ولري لکه شير پيره يا به داسي مفرح دل و دماغ وتسکين د هندهٔ اعصاب وي چي په هرگونډي کي به يې ترنگ خوشي پرته وي. نو دا گمان مو بيځايه بولم. ځکه په دې شرو کي د ۱۶۰ کلو د بې وزلو د څگو خزکي، د ځيز غاله مغزو جزکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه د زلزلو چغکې او د زړه درزونه، دردونه، غمونه، انعکاس او نقاشي سوي دي. که څه هم ستاسي به خوا درووهي. خو د پېلادو يلو توصيه يې زه څکه درته کوم چي، تاسي بيا هم د اولسو په جگرخونيو کي ورسره گډ او شريک سئ؛ چي دوی يوائي په غم کي پاته نسي او پر دې تورو لمبله تولو داغ ديدگان او غمجن سره کښيني او پاتا سره ورکي وروسته د غم کمبله تولو کړي.

دا پلامي د دې مجموعې نوم په دې خاطر بېوسي، وټاکئ؛ چي ټولو ناخوالي، ساړه اسويلي، دردونه، نادودي زموږ بېوسي ده. هو. ذهني، جسمي، مالي، او نور رقم، رقم بېوسئ؛ زموږ په پښه دي. تر دې حده پوري بېوسه او بېرندوکي يوچي د پيشي د تښتې څخه هم بېرېږو. هانور خولا پرېږده. دا زموږ بېوسي نه بولئ؟ چي پر يوه ټيک يې راته اېښې ده. په سر مو راته گوري؛ توري يې راته پرتندي دي. د ناترسو ترچپلاخه لاندي يو. د سياه سرو ژړاوي، بښراوي، الـه لاوي دي. هلکان ځان د ډاگه، ډاگه وهي، پر خوله لوږو د پورته کېدو څوک نسته. په سترگو کي مو خاوري رډ، بډ پاشل کيږي. ټاټوبئ مو ورک دئ. د خدای پراوبجه مو څوک نه پرېږدي. په هر ځای کي شېرخطيان يو. په جيب کي شانزده، په کندري کي سپېروني ندئ پاتـه.

لڅي ويښتي شتمنۍ مو ځغلوي. د خپلو هستيو پر سر به
چېچه ايستلي يو. تېغونه او ازږۍ لا د لاسه را باندي
صافوي. د دغه واقعيتو په نظر کي نيولو سره مي د دي
مجموعې نوم «بېوسي» وټاکی، چي د اکثرو جملو څخه هم
دا ښکي او بېوسي بوږنغ او مفهوم راوزي. موږ بېوسه
نه وو خو اوس زموږ وس غلو وسدارانو وړی دی.

خاوري عبدالهادی رښا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

زما کشري زوی (عبدالناصر) چي دوستان يې (کبلی) بولي راته ټينګ سو چي ستا دغه د ښوسی مجموعه دا ګڼت د چاپ د پاره زه ليکم. ما ورته وويل چي "دا خو د زوی زړی دی. مګر ستا خط کله د وايي دی؟" خو ده ټينګار کاوه. ويلې "د طواء ټکی دی که يې بېله ما بل څوک وليکي". ور سره ښه مي کړه. ما ويل "ودي ګورو".

هلک رهي سو. د خوش نويسی يو کتاب يې پيدا کی. ورته وجوغېدی. اندر په يوه، يوه نيمه مياشت کي په خط کي دونه باولی سو چي پر خط يې زما باز کښېنوست. مجموعه يې په بشپړه توګه چاپ ته آماده کړه.

دی ډېر ذکي، پوه او مستعد زلمی دی. استعداد يې د ستايلو وړ دی. مګر نوښه وکوچي پر هيواد مو د بلاسا ختلي ده. د دغسي ډېرو مغزنو، مبتکرو او سالمو فکرو خاوندان د بل په خاوره کي ترټلي، لی به ليه او تاک له تاکه ګرزي. پياز په ګنډه په ډوډی پوري حيران دي. د استعداد د روزلو او تحصيل استادان يې يا نسته يا هغه پخپله بخوله اخته دي.

زه اول د ده څخه د دي مجموعي د ليکني د زحمتکښی مننه کوم. بيا يې استعداد ستايم چي په لږ وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دونه اَوْړَه سوچي مجموعه يې يك لوخته صافه وليكل. دا
دئ نن يې خط ته ستاسي سترگه هم وړاوړي.
خدای دي ده ته برکتونه وركي. وزردي وزيږي.
دانسانيت په هره برخه كي دبريو غښتي برخي ورته غواړم.
- ريشاء -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شماره ‖ عنوان | مخ |
|---|---|
| ۱ . لوی ښبنتن | ۱ |
| ۲ . رب ته دریږو | ۲ |
| ۳ . اې خاونده ! | ۳ |
| ٤ . دغه حال دئ چې نه چاغیږو | ٤ |
| ۵ . لېوه هم پرهېز کوي؟ | ۵ |
| ٦ . حالونه مې راوړي | ٦ |
| ۷ . بېچاره پروفیسر | ۷ |
| ۸ . غم ځپلي اولسونه | ۸ |
| ۹ . لامونه دې پېژندلي ؟ | ۹ |
| ۱۰ . تښتي د خولې خبري | ۱۱ |
| ۱۱ . دخپل زوړه ناخبره | ۱۳ |
| ۱۲ . جنګ پرغله دئ | ۱٤ |
| ۱۳ . دلته ګذاره سخته سوه | ۱۵ |
| ۱٤ . زوی مړي لاس نه اخلي | ۱٦ |
| ۱۵ . للو ، للو | ۱۷ |


لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره - عنوان — مخ


۱٦ . ملل متحد ته وايم ________ ۱۹
۱۷ . که راتله نو پاخه راځي ________ ۲۱
۱۸ . داځه سوران راغلئ دئ ________ ۲۲
۱۹ . ياران يې بد راه کړه ________ ۲۳
۲۰ . دټولو زړونه ډک دي ________ ۲٤
۲۱ . تر مرګه خوب ________ ۲۵
۲۲ . وي شرمولو ________ ۲٦
۲۳ . ياري صداقت غواړي ________ ۲۷
۲٤ . مخ يې راو لګاوه ________ ۲۸
۲۵ . د غه دئ ايثارنو ________ ۲۹
۲٦ . کفن کښ ________ ۳۰
۲۷ . بې باوره وعدي ________ ۳۱
۲۸ . سل د زرګريود ګګر ________ ۳۲
۲۹ . پس ګردني ________ ۳۳
۳۰ . نوبتي مرګ ________ ۳٤
۳۱ . ناميندي ________ ۳۵
۳۲ . حق ده پېره ________ ۳٦
۳۳ . لرګي يې پکار دي ________ ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شماره ـ عنوان | مخ |
|---|---|
| ۳۴. د زړه غمچینه | ۳۸ |
| ۳۵. لوی ختلم په زیرخانه ننوتلم | ۳۹ |
| ۳۶. بې پرزو موټر | ۴۰ |
| ۳۷. ژربه د نازه ولویږي | ۴۱ |
| ۳۸. کوربل | ۴۲ |
| ۳۹. سر شکوني | ۴۳ |
| ۴۰. مخ ته کرکنږي | ۴۴ |
| ۴۱. تماشه یې کوه | ۴۵ |
| ۴۲. د بل لاس | ۴۶ |
| ۴۳. تولد دی دئ | ۴۷ |
| ۴۴. شخصي حکومتونه | ۴۸ |
| ۴۵. پښو ته لویږي | ۴۹ |
| ۴۶. د مغزو عملیات | ۵۰ |
| ۴۷. تالي ختي | ۵۱ |
| ۴۸. ورستي هګۍ | ۵۲ |
| ۴۹. د بندګۍ ژوند | ۵۳ |
| ۵۰. د سرونو لو | ۵۳ |
| ۵۱. نه تعلیم نه تربیه سته | ۵۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمار-عنوان | مخ |
|---|---|


٥٢ . د غه حال دئ ________ ٥٤
٥٣ .زه ته مولويزي ؟ ________ ٥٥
٥٤ .ژړي تلي ________ ٥٥
٥٥ .ولي بل ته اړ يو ؟ ________ ٥٦
٥٦ .د غلو ملګري ________ ٥٦
٥٧ .څنګه وکړم ؟ ________ ٥٧
٥٨ .بي فايدي مجلسونه ________ ٥٨
٥٩ .نيکي غوښتني ________ ٥٩
٦٠ .په وينه بيده ________ ٥٩
٦١ .و چاته ور زغ کړم ؟ ________ ٦٠
٦٢ .پرکمه رهي يو ؟ ________ ٦١
٦٣ .پښتون پاته سو ________ ٦٢
٦٤ .لاس يو کئ ________ ٦٣
٦٥ . ذ غاليان سو ________ ٦٤
٦٦ .فراري عاشق ________ ٦٥
٦٧ .مردار خواره ________ ٦٦
٦٨ .ترکلکين راته ګوري ________ ٦٧
٦٩ . ګلګل ميري ________ ٦٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره ـ عنوان — مخ


٧٠. توپك خپل و پردی نه پیژني ــــــــ ٦٩

٧١. بېوسه یو ــــــــ ٧٠

٧٢. پر صراف کلي نه چلیږي ــــــــ ٧١

٧٣. راغله، ولاړه ــــــــ ٧٢

٧٤. بدي خاطرې ــــــــ ٧٣

٧٥. منافق ــــــــ ٧٤

٧٦. کوږ لاس کوږ مغزی ــــــــ ٧٥

٧٧. بړگ گل ــــــــ ٧٦

٧٨. ښه انگور چغال وهي ــــــــ ٧٧

٧٩. پښې نه پر ورځي ــــــــ ٧٨

٨٠. آینده نتیجه ــــــــ ٧٩

٨١. د بیت المال موږکان ــــــــ ٨٠

٨٢. نه شرم نه حیا ــــــــ ٨١

٨٣. ترکه و ارزانه ــــــــ ٨٢

٨٤. سوک زړه ــــــــ ٨٣

٨٥. اوږد زکندن ــــــــ ٨٤

٨٦. پر یوه زخم بل زخم ــــــــ ٨٥

٨٧. ښه کوئ بد مه کوئ ــــــــ ٨٦


پنځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شماره ـ عنوان | مخ |
|---|---|
| ۸۸ . سګرېټ کښنانو! | ۸۷ |
| ۸۹ . نصواريانو ته | ۸۷ |
| ۹۰ . خپلي ښنکلي ته ځم | ۸۸ |
| ۹۱ . خبره خلاصه ده | ۸۸ |
| ۹۲ . خوندېي نسته | ۸۹ |
| ۹۳ . په ټوک يا څيره ګزاره | ۹۰ |
| ۹٤ . د ډالرومريدان | ۹۱ |
| ۹۵ . بې سوره سازته اتڼ | ۹۲ |
| ۹٦ . د غوښو اکسير | ۹۳ |
| ۹۷ . جوال شکاف | ۹۳ |
| ۹۸ . خرامبو | ۹٤ |
| ۹۹ . ترنس کښنته مزدوري | ۹٤ |
| ۱۰۰ . کږې لارې | ۹۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوی څښتن

مُصَوّر، خالق، مالک د کائناتو
ته لایق د حمد، ثنا او د صفاتو
تا راکړي دي بې شمیره نعمتونه
اې منعمَ! معطي د انعاماتو
بینده په زړه آگاه د هر بنده یې
مهربان یې نگهبان د موجوداتو
چې ستا حق ته لار په صدق عملي کړي
هغو یووړه ستا رضا په عباداتو
ته معبود یې عبادت ستا لره بنایي
پرستش نه کړم د بت او فلزاتو
د شیطان د تیرایستلو پناه غواړم
چې ولاړ نسم د خونکارو پر عاداتو
د صالح نیکوکارانو عمل راکه
ما خوندي کړه د روزگار د جنایاتو
ته هادي یې هدایت هادي ته وکړه
دی خواستگر ستا د مقبولو هدایاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رب ته دریزو

مسلمانان چي د خپل رب څخه جنت غواړي
هسي مولا له بندګانو عبادت غواړي
هادي قران چي بندګانو ته لیږلئ رب دئ
باید په دوړو کي پروت نه وي تلاوت غواړي
مسلماني تش په خوله نه کیږي عمل ورسره
هم اوامر هم نواهي مطابقت غواړي
که مؤمنان موږ یو له بله سره ورونه بولو
همدا اخوت په صداقت، مینه، الفت غواړي
که څوک یوائي لمونځ کوي زکاة بیا نه ورکوي
نیمي آیات مني د نیم څخه فرقت غواړي
د همسایه سره اسلام د ورور ژوند خوښو
همد هغو سره دوستي او مودت غواړي
قتل، قتال، جنګ، جدل، فسق، فجور دئ منع
سوله، صفا خوښوي نه چي عداوت غواړي
څوک چي تقوا لري هغه وي و خالق ته نژدي
ښتتي عادل دئ د بنده هم عدالت غواړي
خدایه ته زموږ عمل ته مه ګوره خدایي ته ګوره
ریښا په ټول جهان کي سوله امنیت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اي خاونده!

پاکه ربه ته خالق زه دي بنده یم
ستا له امره څخه لیري افتاده یم
په ګناه کي یمه ډوب تر سره پوري
د رحمت امید لرمه درمانده یم
شیطانانو یم د لاري اړه ولې
اي ستاره اعفوه غواړم شرمنده یم
په دنیا کي مي هم هیڅ خوا نسوه سمه
په محشر به څپل عمل سرافګنده یم
بندګان واړه وتاته یاغي سوي؟
او که زه په بیننا سترګوناديده یم
نه وروري، نه اخوت، نه مؤدت سته
پر دي حال به لاتر کله پاینده یم
زما دژوند چاري راسمي کړه خاونده
زه ریښا کله د چارو ساز نده یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غه حال دئ چي نه چاغيږو

راته وايي چي څوک مخامخ دروغ
د هغو خلګو له رمه پر ږيره داغ
په خوله قال الله وقال رسول وايي
په خوړک کي مردار خوروي لکه زاغ

په مجلس کي يې د ژبي لمبي وړي
وي د ننه زړه يې تور لکه ځراغ
چي د زړه او د خولي لار يې يوه نه وه
منافق دئ غوږه ژبه دا ابلاغ

چي يې ټول عالي صفات د پاک مؤمن وي
چيري و باسم د دې سړي سراغ
ولي نسي رنګارنګ ګلان خرجوه
چي د ګلو پر باغچو ګرځي الاغ

که په رنځ د خونړيزۍ سړی اخته سي
نه جوړيږي د خاکشير په نبا داغ
هرګړی د نابوره مرګ په ګروم کي
ريښا خنګه څوک پر دې حالت سي چاغ

# لیوه هم پرهیز کوي؟

یا پیدا دئ تباهۍ لره چنګیز — بدلوي جګي کوڅي لي په خاکریز
نعمتونه کړي بدل په توروخاورو — یا يې لاټس کړي په یوه ګړي پالیز
یا ښې راغلي بلبلان وږي د باغه — وا به نه وړي له کارګه د بلبل ریز
یا رمباړه، یا شیشنئ، یا ډراپي دل دئ — حیوانان کله ویلی سي نیرېز
درنده حیوان دئ هرچا پیژندلئ — نه پو تیزي د دوی پوست په قناویز
سرچینه که سوه مرداره توله مردارسي — که بهانه تر آخره وي کارېز
د مردار لا نس په خوړکې ډیر حریص دئ — چالیدلئ د کارګه، لیوه پرهیز؟
یو د بل حیات ته ویني د ځان وړکړي — بل جلا د غوندي د وینو وي خونریز
ښه و بد اعمال د هرچا جلا کیږي — که څوک ولري د عقل والبیز

پر زیښا د نفس، هوا لښکر سې راغلي
اوس به څرنګه کوي ځني ګریز



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حالونه مي راوړي

آ بنادمنوا مانمونه دي راوړي — مادګړوب هیوا د حالونه دي راوړي
تهول ژوندي پي پرتې باندي څخېدله — اود مړو مي تصویرونه دي راوړي
یومخیځه وطن واړه هدیره وو — د قبرو مي فریادونه دي راوړي
سوخته دله پرهار زړونه هلته پاته — مایې تش آه ودردونه دي راوړي
په نکریځو سره لاسونه هوري ښخ دي — ما نامراده ارمانونه دي راوړي
مادساندو د ژړاندو ستر ګواوښکي — سیلابونه، سیلابونه دي راوړي
په اوربل يې د اوربل وېښتان پاشان سوه — شاعر څوشعري تارونه دي راوړي
بهارونه غوټۍ نه وې غوړېدلي — دخزان مي ژړ بلګونه دي راوړي
پر دیوال ماغزه پراته وه د بېبیانو — د کوڅې مي ولونه، ولونه دي راوړي
دمرګ وزي په ژوندیو پاتېدله — په سند کي مي هډونه دي راوړي
روڼ اتیانولاتر کله روڼه نیسي — دا دی ما روڼه ماتونه دي راوړي

داچي نن له دې محفله مستي ولاړه
خو ریشاء دغم بېستونه دي راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېچاره پروفیسر

تو سر دود وړي په زړه کي اور بلیږي
د کوړي پشان دزړه خونه سوځیږي

په ظاهره روغ، دروڼ لړمون پخته یم
نا خبره د سباچي څه راکیږي

زما په رنګ تاراک بل چاندئ لید لئ
صورت تنیږي، زړه لړزیږي، سترګي لویږي

دعلاج دارومي ندي پیدا سوي
پروفیسر مي په تشخیص لا نه پوهیږي

ډیر تېروني دوست درتځ پوښتنه نکړي
بېګانه خوې په مرګ لا خوشحالیږي

ریشا مرګ ته انتظار باسه مرګ لنډ دئ
خدائ خبر چي دژوندچاري دي سمیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غم ځپلي اولسونه

پاته يم يارانو د غمجنوارمانو سره
نسته شيريني ژوندون تيريږي د ترخو سره

نه لرم خندا پر شونډو غم لرم، غصې لرم
زړه کې ګلومه څپل درد ونه د غمو سره

چارې ته د عقل اساسي لاره وښه ښوده
شپه او ورځ تيريږي د پرسد ولېونو سره

خلګ او راخستي دي په او ښکو کې غوټې وهي
هسې آموخته سوه د سرو و د تودو سره

ژر به آبد يده اولس له ګرمه سړده وخيږي
لار به پرې کوي د ورانديي تګ د کاروانو سره

مه ناميده کيږه رښتيا غم غصې دې ليري کړه
ځان دې کړه نږدې د غم ځپلو اولسو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لامونه دي پېژندلي؟

د غه څوک دي چې يې وږني هم يې سوځي؟
دغه څوک دي لوټوي چې يې د ورځې؟
د غه څوک دي چې د ورور د جيب يې باسي؟
په رقم، رقم نوموېي ختنا باسي
د غه څوک دي چې ښهري خلګ د کوره؟
دغه څوک جلا کوي خپل ورور د وروره؟
د غه څوک دي چې قبرونه يې ړنګېږي؟
کور، کوڅه، مسجد بنارونه يې نړېږي

دا د دې عصر زمریان که چغالان دي؟
چې خوړک یې د خپل وروړ د کوړ چرګان دي
دوی پرڅه دي تباهۍ ته جوغښېدلي؟
دا یې ړحمه دا بښیلي، ښوېدلي
دوی څه وایي، څه کوي، څه یې مقصد دئ؟
چې هر ځای یې اوربل کړئ د حسد دئ
آیا پېژنئ یې دا ناترسه څوک دئ؟
د سور سات او بس چې هر کاله ته چوک دئ
خلګو ښې سئ بس ته، پرېږدئ خپل خوبونه
د ریښا سوالونه ورکړئ جوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تشي د خولې خبرې

د نړۍ بشر خواهانو، چيرې ورک ياست؟
د مظلوم طرفدارانو، چيرې ورک ياست؟
زموږ له حال څخه خبر ياست او که نه ياست؟
مهربانه پر خوارانو، چيرې ورک ياست؟
د افغان پر سر وخته ناورين سيده دی؛
بشر دوسته انسانانو، چيرې ورک ياست؟
سترګې پټې دي، که حق نسي ليدلی؟
حق بينانو بينايانو، چيرې ورک ياست؟
انساني عاطفه، رحم ولې نيست سوه؟
رحم دِ له هستمندانو، چيرې ورک ياست؟
افغاني ملت په وينو لړند پروت دی،
بې سرحده ډاکترانو، چيرې ورک ياست؟
بشري حقوق د خولې تشي خبرې
د عمل وفادارانو، چيرې ورک ياست؟
توازن نسته پلې سپکې درنې سوې
په نړۍ کې منصفانو چيرې ورک ياست؟

تر غذا سو د سلاح کاروان د مخه
د ترافیک پیره دارانو، چیرې ورک یاست؟
د اوربل قوماندې ډیر ژر عملي سي
د اوربند منصبدارانو، چیرې ورک یاست؟
د افغان نجات ته کمه لاره وزي؟
مخ کښانو، رهبرانو، چیرې ورک یاست؟
بشري نړۍ قرض داره د افغان ده
بندي غاړي دیندارانو، چیرې ورک یاست؟
د امید سترګي وتاسو ته کږې دي
اي! د سمې لارویانو، چیرې ورک یاست؟
د کارګانو آوازونه پورته کیږي
له دې باغه بلبلانو، چیرې ورک یاست؟
په طعنه په اشاره به څه سي جوړه؟
خولې کړئ خلاصې شاعرانو چیرې ورک یاست ؟
ریښا ورک دئ په تیاروپه دریلوکي
چیرې یاست مشعلدارانو چیرې ورک یاست ؟

# د خپل زوره ناخبره

په ښایست کې قافلې دې مخ ته اوړې
خوولاړې یې د تورمخ غلام و دړته
په مړانه دې دېبان دې چپه کړې
په قوت کې غرولاړې یې هرخطرته
اې د خپل مړانې، زوره ناخبره!
توره چا ده تېره کړې ستا وسرته؟
پخوانې تختونه چاکړه دړې وړې؟
چې پر وچه مځکه پروت یې وسره لمرته
په برېښتاو په شمله دې څوک اخته دې؟
په پړونې کې وړل کېږې و بهرته
سپينه وړځ دې د غفلت په خوب کړه ګړه
توره شپه به تېر وې و سپين سحرته
د بابا او د نيکه نوم دې هېر نسې
بد نامې بیا پاته کېږي وپسړ ته
وروستی عمر د زیشاء د بې آبې سو
وچه دړختنه رسیږي وشمرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ پر غَلَه دیٔ

که د ورځو تر میانځ نه وي یکرنګي
زندګي د هغونه ده زندګي

د ملت تر میانځ که یو وار نفاق راغی
پر ور غورځي هرچوړي اور بېنګي

د غه حال پر افغانانو نن راغلی
د نفاق اساس یې ایښی فرنګي

د غیرت بګړۍ وغاړې ته لوېدلې
افغانان دي یو د بل سره جنګي

د برېن زړه وال د ورور په مرګ کړي فخر
غواړي هغه زړه اهاک چې وي سنګي

چې د بل په اشاره خپل ورونه وژني
تر دې نسته بله لویه بې ننګي

نه آرام او نه امید د هوسایي سته
زوړ و ووړ ژوند پروت یې په خلوت تېنګي

چې پر زړه یې د ورور د حُب تاپې وي
د هغو ظاهري خویٔ وي پلنګي

په میدان کې چې څرګان سره پېر سي
لمړی ضرب یې وي پر تاج د کلنګي

رښتیا، څوک دي پر سورناکله غوږ نیسي
چې وي پورته آواز و نه سورنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لته ګذاره سخته سوه

د سپين سرو د نازونو مي بد راځي
د سپين ږيرو د ګيلو مي بد راځي

مشران چي د خپل کور مسئول نه وه
د کړو وړو خو د هغو مي بد راځي

چي په کور کي نه تنظيم نه د سپين وو
له دې ګډ وډ تنظيمو مي بد راځي

چي نه قول نه وعده وي نه وړاشه وي
له دروغو د وعدو مي بد راځي

دلايل منطق چي نه وي په مجلس کي
وچ دلو ډو آوازو مي بد راځي

فيصلي چي په عمل کی تطبيق نسي
پر کاغذ د فيصلو مي بد راځي

هسي ډېر شيان موجود ستا بدي اېسي
خصوصاً يا د جنګو مي بد راځي

ريښتيا و لا ډېر سه يو ې بلي سياري ته
ستا له دې نصيحتو مي بد راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زوی مړی لاس نه اخلي

سحرګر وڅه جادو را باندي کړي
عقل فکر يې دئ زما له سره وړي
د خپل ځان سره مي واک واختيار نسته
کشوي مي لکه مزغاړه کي پړي
د ژوندون د پاره مخکه راته سره ده
د مرګي په کټ کي پروت يم لکه مړي
د کم درد څخه نالش وکړمه خلګو
د وجود هره حصه مي ده کوم بړي
چي يې غوښته هغه هوډه يې پوره کړه
پر څه لاس را څخه نه اخلي زوی مړی
د دوو ورونو په لاسو کي سنلاخي دي
يو دا بل حلا لوي لکه اوز ګړي
د خپل کور يې ريښا بهر ته ويوست
پاته نسو په کاله کي د کور غمړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# للو، للو

الا هو للو، للو، خوب دي درشي دلېمو للو، للو آباهې، آباهې للو للو
د سترګو تور د زړګي سر للو، د توري شپې ژړېدلمره للو، پر د ښمنانو سپي لاس بره للو

الا هو للو، للو

اوس دي خوبونه کوه، پاک خوړ کونه کوه، پر موړ نازونه کوه
ځان مړه وه په شيدو، خوب دي کوه تر سپيدو

الا هو للو، للو

سبا قومونه روڼي، کار له غښتلي پالي، دوی ته د لوړي ساتي
ښنتن د لويو کارو، د نوي، نوي فکرو

الا هو للو، للو

ته به اقوام وينبوي، ته به عوام وينبوي، بشر تمام وينبوي
ته د غفلت د خوبو، د جهالت د خوبو

الا هو للو، للو

نړۍ کې سپين دي که تور، هر يو د ځان بوله ورور، نړۍ د تولو لوی کور
سره يو ځای د قرنو، پر د ښتو، غرو و رغو

الا هو للو، للو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وچه بيديا اوبه وه، خړي غونډۍ شنې کوه، زوزان د بېخه رېبه
زړونه راباسه د غرو، وتړه بند پېر رودو
الا هو للو، للو
پوره که لوړي هيلې، د مرگ سلاح کړه ويلې، وايه د ژوبد لې
وړک کړه خطر د جنگو، خلاص کړه بشر د لمبو
الا هو للو، للو
زما وصيت و منه، حق عدالت چلوه، خدمت د خلگو کوه
د غه قيمت د شيدو، ستا څخه غواړي ببو
الا هو للو، للو
د خلگو زړه وساته، زړه يي د زړه وساته، لوی او واړه وساته
عالي انسانه للو، پر خواري گرانه للو
الا هو للو، للو
آينده ه بناد اوسې، آرام، آباد اوسې، لوی سې د مراد اوسې
زما نازولې زړگو! چې هېره نکړې آذکو
الا هو للو، للو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملل متحد ته وایم

داده د انصاف، د عدالت، د حریت نړۍ
دا ده د بشر، بشرخواهی، انسانیت نړۍ
دا ده د انسان د ترقي او عصریت نړۍ
دا ده پرمخ تللي د ورورۍ او د ښه نیت نړۍ

---

دا جملې که هرڅه په رښتیا سره ویلي وي
نن ریښې د ظلم او ستم باید ختلي وي

---

آیا استعمال د اسلحو تاسي ژوندون بولئ؟
جنګ وانسانانو ته پیشرفت او تمدن بولئ؟
او که پر عوامو بمباري عصري قانون بولئ؟
و وایاست رښتیا چي د غه عقل که جنون بولئ؟

---

زه د ورور وژنه خود خواهي وجهالت بولم
زه د انسانانو جنګول لوی خیانت بولم

---

جوړه پر بې د فاع خلګو ناورین دئ مصیبت دئ
دوی وایي چي جنګ داخلي کار د مملکت دئ
څوانه! هسي نه ده د بهـــــر مداخلت دئ
هرځای چي جګړه وي د یو، اِن مسؤلیت دئ

---

هر جنګ په داخل کي د خارج څه تمویلیږي
دخل د خارج وي دسد خلګ په پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډې د یو.اِن د سرغنه وعاقلانو وي
داسي معلومیږي چي بازۍ د هلکانو وي
ځکه فیصلې بې نتیجې د انا یانو وي
یا د فیصلو تعمیل پلاس د استادانو وي

---

وړ ده دیو.اِن استازي ژرچي استعفا وکړي
یا دي د بې وزلو د نړۍ سره وفا وکړي

---

بعضي په پوهیږي چي جنگونه پرغله وي
ځکه فیصلو کي د زورګیر درنه پله وي
هرضعیف النفس د زورورو پر پله وي
نه دئ عدالت چي ناحقیو نه شله وي

---

خود به په نړۍ کي تردې لیري لمبې بلي وي
خود به جوړي سوي د زورګیر پرطرف ډلي وي

---

جوړي تباهۍ ته کارخانې د سلاح ګانو دي
ګټي د غټانو تاوانونه د کچنیانو دي
ناز ونعمتونه د قوي تفنګدارانو دي
واړه اختیارات فقط پلاس د څوکسانو دي

---

زه ریښا، انسان ته انساني خویونه تل غواړم
یا د غه نړۍ د خپل مدار تخته وتل غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که راتلله نو پاخه راځي

نه راځي چي تللي دي ژر نه راځي
کله که راتلله بیر پاخه راځي
ګوري چي لاځو سرونه پاته دي
تش میدان ته بنه په پوره زړه راځي
اوس د ګل هوسو ګلستان نه دی
دلته نوی اوړ په بلیده راځي
اوس یي د راتګ پاسپورټ په لاس نسته
دوی نه پر نخره نه د یوالـه راځي
یو څل چي د غم کمبله نتوله سوه
بیا په وراړکونډي د واده راځي
هر وخت چي سرک یي اوپاشي ولید
هغه ګړی پلي اوسپاره راځي
یو کرت که لمر تر اوره ووتی
هلته به ریښا دلمر وړانګه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داخه سوران راغلئ دئ

کله بیا غوړیږي د دې باغ غوټې
ژړخزان پر شنه بهار راغلئ دئ
خپل باغ ته څوک کله تیریدلای سي
هلته درنده حیوان راغلئ دئ

ماتي ککرۍ څمل بد نونه دي
نن ورځ د سوټي دوران راغلئ دئ
زه چي آینده ته نــــظــر واچوم
زما نظر ته وران جهان راغلئ دئ

او ښکي د یتیم دوچید ونـــه دي
دوی ته طوفاني باران راغلئ دئ
خلګ خوري، ډېري خوري، سکروټي خوري
دا رنګ خورنده انسان راغلئ دئ

دا سي خورنده پهلوان ژر څملي
دوی لره د لري زیان راغلئ دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یاران یې بدراکړه

زما خوازه یاران دي چیري راځه تللي؟
دوی دي تللي که بل چا دي تیر ایستلي؟
نا بللي بیګانه اوس راته ناست دي
ما په دوی کې څوک ونه لیدل نباغلي
نه خبره، نه یې ژبه، نه وراشه ستنه
نه یې زموږ د پرګنو حقوق منلي
دلته یو د زړه خوا خوږی پیدا نسو
کنډوالي، یا تشي توري دي کوډلي
اوس به چیري زړه خوازه یاران پیدا کړم؟
چي پر لوتو تپو ناست وي د کلي
شکایت، درد وغمونه مشترك سوه
ریښتیا ستا په شان دي ټول پر زړه ویشتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټولو زړونه ډک دي

چاته تش کړمه خپل ډک، ارمانجن زړه
کم طبیب دی چاره ساز، د خوږمن زړه ؟
پاک صفا زړه مي د رحم پیدا نه کړی
چې يې ګورم هرځای وینمه، خیرن زړه
د دوستۍ زړه چا وماته نږدې نکړ
نه خوږېږي زما پر حال، د دښمن زړه
د ناښاده زړګي حال چي چا ته وایم
ټر ما ډیر د هغه خوار وي، غمجن زړه
که په سینه کي د مینې خوږمن زړه وي
نه جوړیږي په تعویز، د مین زړه
د ډیر ګرومه څخه ډک زړونه ځوانان سوه
ژنده دل به وو پخوا، سل کلن زړه
لکه نور زړونه چي ډک د ارمانو دي
د رښتیا هم هسي ډک د ارمان نن زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر مرګه خوب

زړه له ډېره ګرومه څه پړسوب کوي
عقل سوګند وړه نن ليونتوب کوي

مينه د يار زړه غواړي اخلاص غواړي
نه ښايي بې زړه چې مينتوب کوي

سړي چې د جهل امبارونه وي
خوشي دي ادعا د سړيتوب کوي

چاته چې عادت د خوب ګولۍ سولي
پروت به وي تر مرګه پورې به خوب کوي

ګېنډ غونډي چې سر ډک د هوا څه سو
کله بې لغتي وړاندې توب کوي

ګېنډ پخپله پورته خيالات نه لري
واړه د لغتو بې لوړتوب کوي

ځواني ککرۍ تر خاورو لاندې سوې
زوړ ږيشا قبر وته مشرتوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وي شرمولو

ډیر وشرمیدلو تر هرڅه پورې . څومره خجالت یو تر دنیا پورې

هرځای رېشخندي دبلاسه یو . څه جواب به وا یو تر بابا پورې

سترګې چې سي وچې بل څوك نه وینې . مرې سترګې ولاړوي تر سینا پورې

څونه د رواغان موهوم وانه وړېدل . حق واړه باطل سوه تر رشتیا پورې

ډېرې دوعدو خلاف وړنه وسوې . نه ورسیدلې تر وفا پورې

دا ژمنه يې هم د باور نه بولم . سل ژبې يې وکړې تر سبا پورې

څنګه بې تمیزه زمانه سوله . خاندي د ریښا خوار په ژړا پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ياري صداقت غواړي

یاري نه کیږي په زور محبت غواړي
هر قدم د میني غور، د قت غواړي
چي رضا د یار حاصله نکړي ګرم دئ
څوک چي ګرم سو هغه ولي جنت غواړي
رسیدل د عشق پړلار تسلیدل دي
خوب وخیال دئ چي په مفته وصلت غواړي
په آخر کي هغه پاته شرمنده سي
چي د یار د خوښي پرته عزت غواړي
د غرور د خره د شابه راښکته سي
غمازان چي مي د یاره فرقت غواړي
ریښا صاف اوسه په مینه محبت کي
یار په مینه کي تنها صداقت غواړي

# مخ يې راولګاوه

زندګي راته زندان سو . دیوالونه زولانه سوه
اولادونه اتکړي دي . آزادي غلامانه سوه

څه شي وکم؟ چیري ولاړ سم؟ . ډېره دي وخپل منفور یم
کشران مي په خوله نه دي . مشران مو نازدانه سوه

په ما مخ دئ لګيدلي . څوک مي غوږ پر کړزونه ږدي
دوروستي عمر خواري دي . ښادي ولاړه بېګانه سوه

څوک مي ولي په ډبرو؟ . څوکلوي مي، غموي مي
چي پر سر دي خان بللي . هغه واړه دیوانه سوه

ولي مينه الفت ورک سو؟ . ولي هيڅ ترحم نسته؟
ولي عقل و لاړئ پښنوته؟ . چي پر جهل روانه سوه

اختيارات مو د خان ندي؟ . که دبل ډول ته نښېږو؟
که موسد دسره تللي . چي کاروته خصمانه سوه

بي چاره "ريشا" خونړيزي . وروستي عمر پر تيريږي
دوړو په لاس کښېوتي . زړه د ګرومه پنقانه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغه دئ ایثار نو

نور موغت کړي غتمه وويي لانور

ځان مو تیت کړئ تیته وويي لانور

څو مري سپک سوي یو دبل په تله

ایا تر دغه سپکو ويي لانور؟

پخپله سرو کړي دي ورونه

په غم ککړ، ککړ وويي لانور

بل ته خندا ځان ته ژړا راولي

خپل ژړيدلي ژړه وويي لانور

خپل خوږو وچي بیګانه په خونس سیی

بل خوږولي، خوږ وويي لانور

زموږ په غوږو اجنبیان مړه سوه

هم مستوو، هم مړه وويي لانور

جوړي مونه کړي آبادی وځان ته

آبادی چیري نړه وويي لانور

ریشا په خپل غم مصیبت کی ډوب دئ

ندئ انصاف چي زغو ويي لانور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کفن کښ

چې پوڅه سي د ژوند کاړ سره پتلیس
بیا پکښې باسي تر ځي یو ابلیس
کله کله په امید سره زړه ښه کړم
تر نظر مې پتوخ و ایسي تنیس
چې څه نه لري د دوی به څه سي سوده؟
چې هر څه لري هغه بیا وي خسیس
هیڅ د روغي امید مکړه د هغو نه
چې وړانې یې وي لوستلې په تدریس
یم د ظلم په سکِنجه کې وړغلی
د قوي لاسو په زور سره یم پریس
د امتاع د کم ځای و بولم یارانو
چې پرلیک نه امریکا وي نه انګلیس
ریښا هسي کفن کښ کس ته حیران دي
چې یې وکیښ د شهید څخه کمیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې باوره وعدې

په وعدو په قسمو يې باور نسته
چاکه خپله وعده څو ځلې کړه ماته
د هغو قسم، وعده خنثا ايستل دي
د رښتيا د صداقت لاره ځني پاته
ليري، ليري او ګوښه ځني تېر بېزه
له کاذب سړي مخ وګرزوه شاته
کاذبان هيڅ د وعدو پابنده نه دي
دروغ خبره غوږ ځوي سباته
له دروغو اسلام هرڅوک منع کړي!
خصوصاً دروغ ناغان نه ښايي ملاته
د دروغو مزل لنډوي دا متل دی
په ميدان کې ژر راوزي وړيښتياته
بې حياته د حيا اميد ونکړې
مرګ بهتر وبې حياته له حياته
وې ساته په صداقت پاکيزګي کې
خدايه! حقه لار ور وښيې ريشاته

# سل د زرگریو د گگر

د ماتول‌وار یې خوړلئ، پر کله د اتحاد دئ
ما غزه تیت زړې، زړې سوه، کاړې وار یې د استاد دئ
ښبنت له ښبنته بیا تر زویه، دئ افغان اولس نیکخویه
پر میدان یې کلي لغړي، داد کم یزید ایداد دئ
نه مؤمن غوندې زړه سوی کړي، نه انسان غوندې خپلو کړي
زړه یې سخت لکه ډبره، داخاصیت یې د جلاد دئ
که پابنده د قران دئ، که یې خوی د مسلمان دئ
که خیر په سود، زیان دئ، هلته پاک د دوی جهاد دئ
بُن یې وکینې د خوش ښېنو، ریشه کش معانید ښېنو
چې بنا پر ښیاد نه وي، تعمیر خوشې یې بنیاد دئ
پې یې ایښئ دې توږل کړي، ښېنه ستون چپه کیدل کړي
تر هغو چې نری کیږي، وفولاد لره خراد دئ
پر ډک خم چې د آساقي وي او تر څو چې ړنګئ باقي وي
نشئې به ملاقي وي، خمارې ته پر نه داد دئ
چې بګړی یې د اسلام وي، خو په نیت د دویادام وي
که هر څو ملا امام وي، هسې پټ لکه صیاد دئ
د مغزوبه څه ښادې وي، چې یې ژوند نامرادې وي
ښادې نه لرو ښامنو، د ریښا زړګی نا ښاد دئ

# پس گردنه

بدنیتي دي، بوتربله بدبینه دي
تربګنه دي، خصومت دئ، دښمنه دي
بې عدلي، بې انصافي د کمه راغله؟
د بې وسو پر حق چوردئ، شبخونه دي
اولادونه د کم دو، دي ډانه خوره
د مرغانو په شان وړکي پلرګنه دي
نیک اعمال ولې بدلیږي په بدیو؟
که دقیق سو داخبري بیروني دي
پر دښتوګر زیدل کله تمدن دي
په ښاروکي پاته لږ څوکوړنه دي
خلګو څه کوئ؟ پرکمه خوا رهي یاست؟
پر دې لاري خورا ډیري دیدنه دي
"ریشا" وګوره پر شاو خوا نظرکړه
د رته پاته چي لاڅو پس ګردنه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوبتي مرگ

پرېږده چي مغازې دا سلحو سته
و بشر ته نوبتونه د مرگوسته

که مرمۍ له ماخطاسي پرورور منبلي
په ضربه کي کله وخت د نښانو سته

استعمال دا سلحو باید جاري وي
په تعطیل کي يې تړل د فابريکو سته

انسانان چي يو د بله سره وژني
بلخه نسته تنها ګټه د پیسو سته

اوکه نه نو وروڼه ولي دښمنان سي
په هر جنګ کي پټ لاسونه د پردو سته

که سلاح سي د نړۍ له مخي محوه
و بشر ته فراواني د نعمتو سته

دوی د دې دنيا لذات ځان لره غواړي
و ږيشا ته صرف نعمات د جنتو سته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نا میندي

څمه خپل کاله ته کوږ مغزی د اندېښنو سره
اوښکی سوي لاړو نه د غمجنو کاروانو سره
لاړه ده اغزنه سړک وران پل نړېدلی دی
چاودي پښې ږهي یم د خولې خلاصو اولادو سره
څوری؛ د لار ختم سو نو کان خوړمه د لوږي څه
وچه وچوبي ده درخته نښته د ابو سره
ورک مي سو تما توبئ نه ګڼډ غالۍ نه دیوال ښکاري
وږځي تېرومه د قبرو او کنډوالـــو سره
و ایستل ګرانۍ د تن کالي په خپل قوت له ما
وچي مړې غوړه صدرې یو وړه د جېبو سره
هیهات چي د اژړانده سترګي بیا د اوښکو وچي
هیهات چي په کټکي به وي ناو یاني د مړو سره
ریشا؛ د انسانو د خوښیو مزه تللۍ ده
شین پالیزیي لانس سو د اوښانو په ګلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حق ده پېره

ژبه خوله کي دومره کله سوځنده ده
لکه بَلْ چي مي پر زړه داور لمبه ده

غماز انو زه پر خوله يم پېژندلی
چي په ما پوري خوږه ګوله ترخه ده

زه انسان يم د لرګی نه يم جوړ سوی
ولي کش زما پر سر د غمـاره ده؟

خو تبر لره د رختي لاستی ور کړی
د ريښو تخـنه چي قطع يې تنه ده

د غړومبي بې خلګ تو له لرزېد له
پر راغلې نن د بيري پرې لړزه ده

په غيرت يې د زمري نوم و ګټلی
د بابنې پنجه يې سخـه پر کله ده

نن يې ولي د همت بکړی شوه کړه؟
پر سر پروته يې خالي، وچه ډبه ده

څو عقلونه په سر و کي پيدا نسي
د هر چا خه ور که لاره او کوڅه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لرګي يې پکار دي

هيڅ قوت ورپاته ندئ يو زره
بايد نسي پرخپل ځان باندي غره
د ميوې اميد له هغه ښاخه نسي
چې ياوچ وي، يا په بېخ کې وي اړه
وچه دړخته بيرته نه کوي برګونه
نه ګلونه، نه ښاخونه ګرسره
دچرسی زويه دګټ اميد مکړه
دهغوڅه هم چې ناست وي پرپره
هغه باغ ته چې باغوان يې نه دړلودئ
چغالان ورځي پر دړ اوپر ښخره
دلېوه څخه غټ مزونه لا بيريږي
چې له ځنګه ځني پوړته کړي بره
زه ريشاء دهغه چاڅه ډېر بيريږم
اسلحه چې يې وڅنګ ته وي خره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه غمچينه

ګرانه د شيد په ډول سپينه ده
مخ لکه سپوږمۍ دي ماه جبينه ده
يو ځل چې د يار وخت ته کښينستل
هغه وخت له شرمه سره و سپينه ده
پټه خوله کې يو کتاب خبرې کړي
زړه کې يې ساتلې پټه مينه ده
کله چې په ناز سترګې راواړوي
پوه سمه چې ټن لږ څه خوشبينه ده
شونډه چې يو ځل تر غاښو لاندې کړي
هغه وخت يې مينه له يقينه ده
لوړ قد يې چنار غوندې رسا ښکاري
ملا يې هم باريکه هم وريښمينه ده
کله چې کوڅه په خپل لاس و اوبي
هغه د ريښا د زړه قمچينه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړ ختلم په زېرخانه ننوتلم

ما فضاء ته د ختو لاري څارلې
په نصيب مي گورستان يا زېرخانه سوه
چي هوس د پروازو راته پيدا سو
وزر وچ سو زما په پښو کي زولانه سوه
نابوبره د صياد په دام کي گير سوم
بهانه راته د دام يوه دانه سوه
يا به مرگ اوس قبلوم، يا به يم غلى
اقرباء راڅخه ولاړه بېگانه سوه
عقل هوښ راڅخه تللى ليوني يو
دا په دې چي مشران مو ديوانه سوه
صدقه مي خزاني نسوې د خپلو
هستي واړه د پره ديو نذرانه سوه
آئينه غوندي رښتيانسم ويلى
درواغان مي په دنيا کي افسانه سوه
د تعمير په امېد ما وې ليځي نغښتي
د ريشاء د پلاړ کوند غالى ويرانه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې پرزه موټر

چې د رست عمر يې تېر کړي په مزووي
پر بل چاپې کله هسې ژوند پېرزو وي
پر پالنګ د عياشۍ خوب نه کېږي
خوب يې نه وړي چې بستر يې داغزووي

تېروانه دي که د کاړ هيله ترې وسي
چې لوی [سوی] په نعمت او په نازو وي
په غفلت کې ښکاري ښکاريسي ښکارولی
څکه غلی، ناست چولوته د خرو وي

ده بهتره چې چپ کښېني په مجلس کې
هر مجلس چې ډک په غټو آوازو وي
چې د ژړندي پل يې څرخي پر سر باندي
څه ښادي به ورته پاته د مغزو وي

پورته، پورته غوړځېده د بل لرګي ته
دا کاړونه يا د يږ يا د بېزو دي
هر موټر چې بې د پرزو وي، ولاړ دی
خصوصاً چې بيا بې تيلو، بې پرزو وي

ريښا صبر تحمل درته په کار دی
که په ژوند کې درسره کمه آرزو وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژړبه د نازه ولوبړي

لاس راخخه واخله ای ظالم بې دین غمـــازه
تېر به دي دوران سي ژړبه ولوبړی د نازه
څونه ځوکلیږدل، څونه جفا هم تا و نکړله
وګوره تاریخ ته تر انجامه له آغـازه
ظلم که تعدا وه که هوس وو نو دي بس دئ
نه یې تـرآخره بهره مند له امتیـــــازه
تاکه ځان پټ کړئ دئ د طلسـم په لباس سره
اوس نګار پوه سوئ دئ چي څومره یې چمبازه
ځه تورې واخلـه د جانان بې اعتنا ده یې
مالره دخپل جانان د وصل درګاه بازه
خوار ریشاء په عشق کې کهرڅونه ځوکلیدلی دئ
شکر دئ خاونده معشوقه پوه سوله رازه

# کوربل

چي ترستر گومي د یار او ربل جل بل سو
او ر دمیني مي د زړه په کور کي بل سو

تازه دمه ومړ د سوي زړه د سوخته
زړه مي وروسته پیاله سوي څه په کوربل سو

د فراق بتي بیابان راته انګار دئ
مخامخ د اور لمبې راته کوتل سو

د حباب تر څتر لاندې مي انزاغ دئ
د سکروټو په باران کي مي مزل سو

هیڅ نسخې مي د مرض علاج ونکړ
د ګولۍ پر ځای ګولۍ راته اجل سو

ریښا ستالا آینده ژوند ته امید دئ
چي پر زړه د غشو واري مسلسل سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرشکوني

د خپل ځان رڼي يې وسوځ په لمبوکي
په کندړي کي پاته نه سو سپېروني
د بابا هستي يې وړکړه بېګانه ته
اوس د بل پر در ولاړ دئ ژړغوني
هيواد ټول په لمبوکي سوځل کيږي
پاته نسود ادي پر سر پړوني
هيواد وال دي ترخپر ولاندي سوي
پر لوړانه چوکه جنګ او سرشکوني
پر ماشه باندي يې ګوتي سره ايښي
وکوټي ته کړول د توپک نوني
چي د جنګ لمبې يو لږ څه آرامېږي
د بل لاس په لاس کي ورکړي اوړلوني
چي جنګي جامه وجنګ لره په تن کړي
بدمي اېسي ساده دِله برګ پتلوني
ريشاء ناست په لنده بله زړخانه کي
پرپښو درد دئ لګېدلئ لګوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه ته کرکنډي

شرمښان یوارپسه کړي انډي
ځني وځغلوي هریوخپلي ونډي
انسانان هم ځني دي لېوه صفته
ځغلوي دوړور د ماله څڼه پلنډي
د حلال مالوېي نه وکړله ځکه
ډ کي خیټي د حراموتنډي.تنډي
چي دخولې او دزړه لاره یوه‌نه وي
منافق دئ په اسلام وهي ملنډي
رقیب لس ګرایه بدتر تر شرمښانو
عاشقان یې پسي واخستل سالنډي
ومزله ته رسیده هغوته ګران وي
چي په مخ کي ورته پروتي وي کرکنډي
د ریښاء اوږده مزلونه دي په مخ کي
ربه ته کړي اوږدي لارې،ده ته لنډي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تماشه يې كوه

نه ده نكتايي د عصريت نخښه
نه دي پوچ الفاظ د علميت نخښه
تش كوټ و پطلون سرپټوت نه بولم
څو يكښي و نه وينم د پت نخښه
چا كه مظلومان تر لاس و ونيول
دا ده د غيرت د شهامت نخښه
يا كه يې پوره كړې د بشر خواستې
دغه ده بيشكه د خدمت نخښه
زړونه له دي ژوند څخه تنګ سوي دي
نسته پر نړۍ د حريت نخښه
نه ده و بشر لره سلاح پكار
دا د قدرت منو د قدرت نخښه
ورځ په ورځ بشر و تباهي ته ځي
سيل كړه ريښا د جهالت نخښه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دبل لاس

ډېر بشاش مخونه سوله پژمرده
ښادي ولاړه خلګ ډېر دي غمزده
انساني خصلت د خلګو فراموش سو
ولې جوړه يې کړي د ځانه درنده ؟

مړيده يې د انسان په غوښو نسي
چاپيدا کړه دا د غوښو خورنده ؟
وړونه ولې يو تر بل تر لــه وتلي ؟
رسوايي ده ، نکړي يو د بل پرده

اکثر خلګ چي مقصد ته نه رسيږي
اجنبي لاسونه سته پس پرده
وېره خوله د خندا نسته شنډي بوټي
غمجن حال دئ نه خوښي سته نه خنده

ريشا ناست د بې وسئ تخته نالش کړي
د سيالانو په مجلس کي شرمنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټوله دې دی

بېګانه ته یې ښندي خپل وړوریې مړ کړی
په عالم کې شرمنده سوځان یې خړ کړی
هست و نیست یې واړه وړکړه وپردو ته
د اولس تر مخ یې ځان لڅ ولغړ کړی
له بهره یې اولاد ته څه را نه وړه
لا د لاسه یې اولاد ته ځان منګور کړی
د بابا عزت یې وپلوړه په جهل
ځان یې نورو ته په دې توګه ګادړ کړی
د خوړ کې بنارسي جتې پرسر کړه
ده وخوړ ته ور پر سر د غم ګدړ کړی
د هیبته یې زمریان لا لړزېدله
ننه یې ولې ځان بانبې لړه کو کړ کړی؟
په پاکۍ کې یې قدم مخ ته وانه خیست
ترڅو یې لا میدان په غم ککړ کړی
ټوله ته یې غره مسه په کردار دی
ریښا بنه سوچې اصلي ننردي پرکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شخصي حکومتونه

برني پر پروني باندي تاوان کړه
ننی ته د سبا وعدې بیان کړه
چي سبا سوتیاري د تیښتي نیسه
آماده واستعفا لره خپل ځان کړه

د شخصي حکومتو دغه قانون دی
بله پلا بیا په بل شکل ځان عیان کړه
ته ودی په مطلب بنه سره پوهیږی
بېچاره خلګ په ځان پوري حیران کړه
په خلوت کي تا ته هر عمل جائیز دی
پر بهر خبر د خدای، حدیث، قران کړه
که په پټو محفلو کي هرڅه لښ سي
خود باندي سپين پټکی، کميس، تمبان کړه
دا د نن د بدکارانو دود، دستور دی
چي د خلګو ترمخ سپين ځان مسلمان کړه
که رضا د خدای، مخلوق ځان لره غواړې
ریښتیا ځان دي حقیقي عالي انسان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښوته لوېږي

که سیلۍ اوړي که سوځم په لمبو کې
که خندا کړم د ژوندیو په قبرو کې
واړه دي دې په ما هسې چاړې کاندې
تېروم ژوند زه د عشق په مرحلو کې
د جانان د کلي خواته بې پروا ځم
پېره نکړم که تېرېږمه په سپو کې
د فقیر او سپو خوتل سره پرته وي
په یوه ډوډۍ رالوېږي ژړه په پښو کې
ځوېږي رومي خپل جانان ویلې نه دی
غمازا کله شمېرمه په سرو کې
زما د عشق مِس معلوم سوي دي وپاړته
رقیبان ژرحسابېږي په پردو کې
په رشتینی عشق چې زما ګل رخ خبر سو
ریښا' ګرزه د ګلا نو په باغچو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمغزو عملیات

ورکاوه یې دکومک په نامه ونج
اوس د هري روپۍ سود اخلي څهارپنج
د سرونړو کټوریان یې په غلا یووړه
زوړ منګی یې ورته پرېښود پر ګړونج
طلايي خښتي يې وړي په عوض کې
ورکوي وچه تکه لکه اسپنج
د بابا غوښي یې وخوړې کارګانو
د زامنو په کله کې نسته سنج
پر مغزو ماهرانه آپرېشن سوی
چې ساده مسايل ډېر ايسي بغرنج
د لستوني مار دی ډېر په عذاب کړی
سوه د هر يوه ښه لکه نارنج
يو کچکول، یوه لکړه ورته پاته
ځغلوي ژر اوسنۍ پخوانۍ ګنج
يوه ورځ به د حسابو کتاب راسي
چې يې وپېچي مغزی، پښې وآرنج
ریشا، هېښ ناست دی په چرت کي نه پوهېږي
وړي له دغسي ناخوالو څخه رنج

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تالي ښتې

چې پر چا يې د عتاب سترګې کړې غتې
هغه دم هغوی پښو کړلې چوتې
نه اسلام، نه شهامت دی نه غیرت دی
چې دوړور په غوښو وهي سمتي
دا ښکار ندی چې پر لار، لار، وي لځ کړي
ښکار هغه چې په هوا ولې خرګتې
کاسه ډکه د حلال رزقه مزه کا
نه چې بل د رته ولاړ وي تالي ښتې
چې د ورور د سر په بيه لنګۍ غواړي
خدايه! مه کړې راپر سر هسي خرتې
پر کاغذ باندې مې وکښې خوخبرې
هسې پروتي وې په زړه کې لکه ختې
دا بيتونه د ريشا که چتيات بولې
نادانانو اعتراف وکي په متې

# ورستې هګۍ

لو ګيله د زوړو ړوڅخه کيږي
چې وې نکړ د کمزوړو لاس نيوی
د توړ زنو شمله ورو غيرت ندئ
چې کوي د وړو پر حق باندې تيری
چې ملت يې ترخپل ځان پوري هېروي
د هغو په برخه مه بوله بری
مجالس او فيصلې بې نتيجې وي
يکښې ګډ چې په خيرن زړه سوسړی
چې ترچرګې څوک ورستې هګۍ کې لاندې
اميد مه کوه چې وباسي چيچې
مسلمان که ترنامه زيره اوږ ده کړه
پر شکمن يم که يې لنډ وونيم ګزی
د خالي اوبو به څوک کوچې وانخلي
د غړکې چې هرڅونه وي شړپی
ريشا، هغه وخت خپل ځان بختور بولي
که يې وکئ د تېريو مخ نيوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بندګۍ ژوند

شوه کېږي به د قبر و زندان ته — که هر څو دي نن هوا د آزادۍ ده
دغه لارچې دي اخستې ده بنديږي — فکر وکړه دغه لار د بربادۍ ده
لکه غاړه ترابده لکه نه وي — کله، کله لکه غاړه د زندۍ ده
پر دې تموله غوړولي مستان ګرځي — زمانه نن د سوتي اود رندۍ ده
که د عجز وخلوت ته شو د ننه — خلوتګاه وړ فقير ته د ښادۍ ده
که شاهان په دې خلوت کې څوک محصور کړي — ورته ښېښه نا جوړې د سابندۍ ده
د ريشا ژوند نه شاهي نه فقيري سوه — زندګي د بندګۍ د بې خوندۍ ده

# د سرو نولو

نه و رحم د يار کوڅې ته نه. ورحم — توري جولې هلته تګ و دوکوي
سپي غماز مي لاره بنده کړې ده — درکي د جانان ولاړ عوعوکوي
کله يې حضور ته رسېدلی سم — لارکي رقيبان راته پېشروکوي
يار مي د زړه کينت ته ورلوېدلی دی — هلته مي د عشق د ونړود روکوي
کله يې د حق آواز ترخوله خېژي — دوی لکه ميناوي کمچوکوي
ډېر، ډېر دروغان مي اوريدلي دي — پوه يم بيا پر نور و وعدوخوکوي
نسي رسېدای ريشا تريار پورې
څو چې جلادان د سرولوکوي

# نه تعلیم نه تربیه سته

تعلیم نسته ماشومان بې تربیه سوه
مکتب وران سو معلمان څني کنده سوه

تربیه د وړکوچنګ دئ یا بنګځل دي
مور و پلار یې د ډوډۍ په غم اخته سوه

په کوڅو کې کچنیان واړه لوچګان دي
په ډبرو سره ولي د یوانه سوه

جهالت ورځ تر دابله ورځ ډیرېږي
خوی خصلت یې د حیوان اُد بوده سوه

پلار یې وزي د روپو وتو لېدو ته
اولادونه یې کوڅې ته وړ ایله سوه

انساني خوی یې بدل په حیوان توب سو
هم یې ناسته هم خبري د شوده سوه

د ریشا د خولې چې هر اوف، آه، را وزي
پر کاغذ د فریادونو مجموعه سوه

# دغه حال دئ

غوښي خوري د خلګو په جرئت سره
وینې یې چښي په ډېر لذت سره

نس یې ورځ تر بله ورځ پاړسوب کوي
خېټه به یې و موښلي د چت سره

ورځ راځي چې لږ انفلاق وکي
ځیږی به لږ شین سي په شدت سره

وې پلوړل د پلار هډوکي و پلوړل
راپي نیوئ جهل په عزت سره

مه کوئ د خدائ وروي ته وګورئ
ګورئ تو له حال ته په دقت سره

دا د هوښیارانو کار زه نه بولم
ګډه بې عقلي د حماقت سره

چاچې د بېوزلو حقوق لاندې کړه
ځئ به بندي غاړي د ذلت سره

چا که مظلومان لوړي ته پورته کړه
دا دئ ریشا ژوند د شرافت سره



(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه ته مولوېږي؟

ټول خوند ونه ټول، ژوبن د زندګۍ سوه — موږ ته پاته زندګي د بې ننګۍ سوه
زمانې نن ورځ دي مړه چيچيان ايستلي — زما خيال چې دا دنيا ورسته هګۍ سوه
ځليدونکي ځلا ورکه سوه تياره سوه — له محفله ښخه پوړ ته ماړ د ننګۍ سوه
ترانې د عشق به هرچا ږغولې — خولې ګبې سولې او ماته سارنګۍ سوه
هغه زړونه نن د جوشه دي لوېدلي — چې له سره راشوه ښځه لنګۍ سوه
افغانانو خپله توره بل ته ورکړه — افغانۍ توره روسۍ يا پرنګۍ سوه
څوک دي ولې په وينا وونه پوهيږي — ريشاء ستا ژبه توړۍ سوه که ګونګۍ سوه

# ژړي تلي

داڅه حال دې چې ژړيږې کونډې ړندې — ديوې هفتې ناويانې سولې کونډې
د چاپښې لکه چخلې دي ړنګرې — د چاپندې، پندې، نوړې هم سوې پندې
نااهلان په دغه حال پورې خندا کا — عاقلانو ورته وچيچلې شونډې
خلګ نه ګوري و بدې آيندې ته — وجواب ته يې نيولې خولې دې منډې
ټول اولس پر دې لمبله نه ځائيږي — پر ځمنۍ لمبله نه سي لوبې غنډې
چې چهرې يې د خپل کامه پوټولې — د هغو چهرې عالم ته سوې برنډې
د غفلت تلتک يې کښې کړې پر سرباندې — ژړې تلې يې را ووتې تر شنډې

ريشاء مه ورځه پر دې ناحقه لاره
د ناحقي لارې و ځغله په منډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولي بل ته اړیو؟

تیل مونسته د څراغ او د اوجاغ — بل ته اړ یو موږ په تیلو د څراغ
پلیسوزمو وخپل ځان ته پیدا نکړئ — لګولئ مو دئ بل ته چهل چراغ
هم په ستن هم په کفن بل ته احتیاج یو — په هستي کي یو ښتمن زړګی داغ،داغ
زراعت سته مالداري ځکي پرېوانه — مګر نوري يي له تولید څخه سوه چاغ
په سترخوان کي که یوه ګوله پیدا سي — د هوا څخه غوټې وهي پرې زاغ
خولې دې منډي د زړه حال ویلای نسو — موږ د بل تر نظر یو لکه اُلاغ
ولي اړیو په هستي کي د بل لاس ته؟ — راسئ وباسو د دې اړتیا سراغ
که اصلي علت د دې حالاتو غواړې — ریشاء وابه وړې پنځوس قسمه دړواغ

# د غلو ملګري

نه جوړېږي څو اخلاص، صداقت نه وي — نه خپل کېږي تر څو مینه، الفت نه وي
وهرچا ته خپل حقوق کله رسیږي — چي حاکم د عدالت حکومت نه وي
که د چورد پاره تړي وي پړانستي — په هغه ځای کي د خلګو دولت نه وي
حاکمان که سوه د غلو سره ملګري — مال لا څه کوې د سر امنیت نه وي
بدامني او ځان ځاني چي هر ځای راغله — بېره، وهم وي مال، سر سلامت نه وي
پر بې وسو، زوره وړ کوي ظلمونه — د بې وزلو سره زور و طاقت نه وي

ریشاء غواړي پر نړۍ چي عدالت وي
په بشر کي خیانت، جهالت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه وکم؟

د فراق په لمبو سوئ خوږين ځګر يم
د وصال په اميد ناست صبح و ديګر يم

ما د ميني لار په وينو او پاشي کړه
اوس د ډيري خونريزئ ړوند په نظر يم

د زړه ويني مي د خولې څڅه فوران کړي
کږ مږګانو يې وهلې په خنجر يم

سر و مال مي د وصلت پر لاره ولاړه
د عشق لاره کي زه تير تر مال و سر يم

سپي رقيب ديار له دره فراري کړم
د هغې وړځې تر اوسه دربدر يم

چي په سپينه وږځ کالي راڅڅه کا زړي
نو به ولي هسي غلو ته خوش باور يم

له دربار چي آشنا نا آشنا باسي
زه ريښا به تر هغو د بل پر در يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې فائيدې مجلسونه

يو سړی وي د تو پو په ويشتو ستړی
بل په څغاسته پر د نښتو، بيابانو ستړی

چا شپه تيره کړه په چوړ پسي روان دی
د هغې خوا د ګوني په ړاوړو ستړی

چې لري يې همدخواست لاس بل ته نيسي
سوناداريز ريار تو په نغلو ستړی

څوک جامونه يې پر يې چښي تشيري
څوک کاګل لره د بام په کاسو ستړی

څوک په شام پارس مخ زيره خيشته کړي
بوټ پاليش والا په بوټ ومونږ و ستړی

شپه او ورځ يو ځای وبل ځای ولې منډې
هر هيڅ په بې فايدې مجلسو ستړی

دې ستړيا و وکې ظاهره منفعت سته
په باطن کې وي په دکو کاهو ستړی

وريشانه هوسايي نده ورپاته
هره ورځ په جنازو فاتحو ستړی

# نیکي غوښتنې

پناه راکړه د شیطان د وسوسو . حب مې وباسه له سره د پیسو
ما د حق او حقیقت پر لاړ روهي کړه . چې را و وزم د نااهلو د جلسو
انساني خوبونه زما سره همراه کړه . نه لیوه غوندي چې ګډیږم په پسو
د هغو ملګرو زما په نصیب مکړه . چې په دام و کوږلې کانږي د نسو
چې تیر نه وزم د ناکسو په وینا وو . ما غالب کړه د شیطان پر دسیسو
د ریښاد تسلیم لاس و تا ته پورته . خواست کوي د خان او لاد د اولسو

# په وینه بیده

د دښمنو په لمبو سره تاو ده سوه
یو د بل په میدان کې سره سره سوه

د غرور په تخته بیا پر مستی راغله
حقیقت په سترګو نه وینې پرانده سوه

چا و دوی ته د نشې پیچکارې ورکړه
چې مستې یې د مور لې په ږغیده سوه

لکه مږ د بل دعوت ته حلالیږي
غا مې پرې مذبوحانه یې غورځیده سوه

په خوږې موادلو لې یې ما غزه دي
په وینو تو کې خملیدلې د بیده سوه

د ریښا لوړ زانه بڼع محفل زغن کړي
دا زغن او ازې سوره سر بنده سوه

# وچاته ور ژغ کړم؟

هدیروکي موږ وچاته کړو ورناري
ساکښ نسته چي د خلګو ناره واوري

موږ د خپلو پښتو لاري څارلي
شاوخوا سوي راته بندي ټوله لاري

چي رښتیا سي اوس په هیڅ چا باور نسته
د باور د لاري مل سوله بې لاري

ګرم وسرد حالات پر موږ باندي تیر بې
سینې سري ستر ګي چي وویم خونکاري

باوله مي را بلل د رنځ علاج نسته
اوس به خوږم پر ککری د ګوسواري

خوراد يري د امید وعدې بې راکړي
نن پر خپلو وعدو کُرت سوله ناګاري

د ریښا حُیات ګړيٰ په ګړيٰ مرګ دیٰ
چي د زړه څخه يې چي د وینو داري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر کمه رهي يو؟

ومزله ته زه پر لوري د خطر ځم
پدې تګ کي په پښو نه ځمه پر سر ځم
مزله وال په سينه ورځ له مانه تېر سوه
زما په مخ کي توره شپه ده مازيګر ځم
ناست چرتي يم د مزله لاره مي بنده
د مرګ لورته زخمي زړه سوئ ځګر ځم
د کاروان مهار په لاس کي د ساربان دئ
اختيار نسته چي څنګ په خپل نظر ځم
لاره ورکه د مزله ده شپه تاريکه
په بيابان کي د وري، هيسته لروبر ځم
بې آبي ده احتمال د چولې شته دئ
تر لمر خر کله ناخبره بې باور ځم
زما ريښا ځه د سفر لوري ورکسوئ
چي پر کمه خوا روان په کم سفر ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون پاته سو

تخت د سلیمان ګنج د قارون پاته سو
د هر پاچا جلا مضمون پاته سو

کرار، کرار پسي تو لیږي تمولـــه
نن به روان سي که پرون پاتـــه سو

چا زرغوني درختي د بخه وکښــي
د بل آباد باغ شین، زرغون پاته سو

یو د بل مال ته پر ځلورو ورځـــي
د بل یو لاس او یو یې ورون پاته ســو

انسانیت د افغـــانـــانـــو ولاړئ
اوس یې خالي کوټ و پطلون پاته ســو

انسانان ځي روان پر مخ دي رهي
تاجک، ازره، ازبـــک، پښتون پاته سو

د ریښا نوم او یا نښان به څه وي
که پر پره دي ځکه مسکون پاته سو

# لاس یوکئ

پښتانه، تاجک، شیعه، هزاره ګان          ترکمن، ازبک، بلوڅ، نورستانیان
هرتکم چې پدې خاوره کې هستیږي          بلل کیږي په یوه نوم د افغان
افغانان د دې هیواد میراث خوارۀ دي          ځکه ټوله د دې خاورې دي بچیان
اشغال ګر غواړي چې د وی سره جلا کړي          چې بیا وروسته وي اشغال ورته آسان
لمړی غواړي چې پر قوم، مذهب یې بېل کړي          پدې توګه یې کمزوری کاندي توان
بیا جلا، جلا پر هر یوه حمله کړي          د بشر د غوښو وږي شرمښان
افغانان که ځان اولادته امن غواړي          د دښمن په دسیسو دې یوه کړي ځان
دیووالي اسلحه خورا کاري ده          په نفاق کې د بل ګټه ده خپل زیان
که بقاء غواړي ملي وحدت یې شرط دئ          بې یووالي تدریجي مرګ ته روان
یا به حتماً یو ځای کیږي یا به ورک وي          د نقشې د مخه ټول افغانستان

د ریښتیا خبري هر شنوا غږ اوري
د کمو د پاره ندئ دا بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ذغاليان سوو

راته پېښې دئ هره ورځ نوئ سر درد    د توره مخو سکروګاز کړم ګرم، سرد

لګوړنه سر دردي او سرچرخي ده    زړه مي ريږ دي د نارنج په رنګ، رنګ زرد

هوايي سوم تکهاړئ مي په سر کښې    ترغوږو مي تګان باسي مرد نامرد

د کوټې ياران مي واړه هوايان دي    وکومک ته پيدا نسو بل همدرد

آرام نلرم په سرکي مي برچې ځي    سرچرخيو کړم د ژوند ځنځه دلسرد

چې يې ووينم تورمخي بد مې ايسي    زغالي کړم د تورمخو سکروګرد

زه د ژمي د ساړه جنګه دار يزم    چې اخيستي سړه لوي وي فرد، فرد

د اسخت ژمئ به خاوند په خير تېر کړي    د سکرو مخ به وي توره په عمل کرد

رنګ زردي به و ريشا ئے سرخرويي وي
که يوځل يې د سکرو موسم کئ طرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فراري عاشق

چې ځان نکړي د یار مخ ته سپلنې
هغه کله عاشقان دي رښتني

تر چولو چي د جانان ومخ ته گوري
هغه خوشي ننداره چیان دي بهرني

که د مرگ سکلی د یار پر زنگانه وي
دا وصلت دی مگرهو، زکندني

که وصلت د یار پرې نشو فراري سو
په قانون د عشق یې خپل ځان کړی خونې

چې کوځه د یار په او ښکو اوپاشي کړي
لري هسي تروې او ښکي شیریني

مرام کاته او تبسم یې نوی ژوند دی
سل کلن زاړه به کړي شل کلني

عاشقان د یار ودرته ملنگان وي
چې پر د ښت گزري هغه دي لیوني

زما د عشق صفحه د یار په توصیف ډکه
له ښایسته د رېښاء اشناغني

# مردار خواره

مالیده خوري، هم ډبري، جوارې خوري
کلنګي چرګه و چرګ واړه جارې خوري
چغالان بیا د چرګانو قاتلان دي
ترمنا یې ډېر چټک پر هوارې خوري
د لاښو په تلاښو کې بابنه ښار کړي
طبیعت یې دئ چې هره مرداري خوري
اِشتها چې یې د حرص په بنوړکې راغله
مرداري لا په خوړا مزه داري خوري
د هرچا مطلب خوړک دئ په ژوندون کې
یو په زور بل یې په ډېره هوښیاري خوري
څوک کړار، کړار خوړک په حوصله کړي
څوک غوټې وهي خوړا یې تلواري خوري
ریشاء شکه د حرامخوړو ونکړې
حرام خوړ آخر په سرواري کاري خوري

# ترکلکين راته ګوري

لا مړ نه دئ چي پر سر يې کيږي وارې
لا يې نه ويني چي ويني وهي دارې
نامردان وي چي پر مړو توري راکاږي
پر راکښلي يې وي سرې سترګې خونکارې
څنګه زړه دئ چي دوړ ور په مرګ ښادي کا
او راباسي پسله له مرګه يې انډارې
دا نن څه زلزله ګډه په نړۍ ده
چي يې ښځې، نر وهي د غم کوکارې
دا د کم چپاول ګرو چپاول دئ
چي په سپينه ورځ نيولي يې دي لارې
پر ميدان باندې يې مخ نه ليدل کيږي
تماشا کړي په کلکين کي ترهندارې
ريښا، داسي ټګمارې په سترګو ويني
انسانان وژني لا ځان ګڼي خدای پاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلګل میرې

تجارت نن ورځ اکثره سود خورې سوه
عقیدوکې پېښه داسې کمزورې سوه
که په هر قسم خوش مرې پیدا کیږي
د ده نکرې تولېده یې رنځورې سوه
بې پیسو څه، بله مینه، الفت نسته
د روپو حب دئ چې ورکه مو، ورورې سوه
کیسه بړندې د بل د جیب یې کاږي
که څوك ځیر سي د غه هم کیسه بړې سوه
د روپو ګونې په شاوړې و داوړې یې
حمالي ده چې یې نوم سوداګرې سوه
سرمایې د خپل هیواده تښته باسي
واولس ته پاته خود دربدرې سوه
حساب ورك دئ محاسب دئ ناخبره
ګډوډې، بې حسابې ګلګل میرې سوه
ریشاء خپل ځان دې په لږ سره قانع کړه
ډېرول یې وبل چاته مزدورې سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپک خپل و پردی نه پېژني

زړه چې د توپک وسوځي بل وژني
نه لري تميز پره دي و خپل وژني
زړه کې چې يې بل داوړ لمبه سوله
څوچې زړه يخ نکي سل وشل وژني
کله سته تو پير پرېږدي د انسان حيوان
خره وژني، غوايي، انسانان سل وژني
د ډک توپک سنگدل انسان چې واخستئ
خلگ پر کشمير او پر کابل وژني
دوست و دښمن کله توپک پېژني
نه يې په پوښتنه يې توکل وژني
هر توپک و مرگ لره جوړ سوئ دئ
کله ډېر عاقل کله پاگل وژني
ورک دي وي توپک د کتار و سره
څکه تش ليدل يې ريشا تل وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېوسه يو

زه بې وسه، ته بې وسه، دی بې وسه
موږ بې وسه سووچي دوی سوه گل هوسه

نو به خود دوس دا ړانو نا خيرې وي
پر موږ شهيري د ړوپې مال يو په لسه

پچمچي که څوک چيچي دا ديې عسل دی
شات خو چانه دي اخستي له مگسه

سبے
چې بې وسه د خپل وس په جال کښې با
خدايه وباسي کلهې د دوی له نسه

په يوه آذان يوه مسجد کې لمونځ کړي
مگر بعضې يې ولاړ وي بې اودسه

يو ښواخوږی زموږ د پاره پيد انسو
په دې لويه کوړنۍ کې يو بې کسه

ړيشا بند دی په قفس د بې وسۍ کې
فرياد و نه يې ړاوړي لــه قفســه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر صراف کلپې نه چلیږي

کوز بار کله ترمزله پورې رسیږي
تر هدف پورې پر لارې چپه کیږي
که کوټه سکه دې ور کړه و صراف ته
کلپې کله پر صراف باندې چلیږي

د ر شتیا د باغو د رختي وې پر باره
د دروا غو د رختي وچې سي رژیږي
که د بلې پې الغیچ کړه ځان ته کوټه
چې مصرف یې نکړې بل لره پاتیږي

چې پر لوتو باندې پورته پوخ دیوال سي
د بقاء امید ترې مه کوه نړیږي
د خولې لار او د زړه لار چې یو نه وي
اقرباء لا د هغو تخنه بېلیږي

ته د یر بنه وایې ریشاء کوردې ودان سه
خو تر تاستا مخاطب بنه په پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راغله، ولاړه

مړي کړي مور مړي بيا به ياد نسي
غر ونړيدئ بيا به ايستاد نسي
غم يې پر کور توره لېسکه وکښله
دو مري غم زده، سوچي به بناد نسي
ډېر و نامردانو ډېر نامراده کړل
دا نامراده زړونه به د مراد نسي
يو وار چي سقوط سو اعتبار د چا
بيا به دوهم ځل د اعتماد نسي
يو ځل چي په مرګ په لحد ننوزي
هغوته د ژوند دوا ايجاد نسي
اوس يې سالګرې د مرګي ياد لري
ژوند يې بايد پس له دې پياد نسي
سر پټ کړه ريشا په رنګت وژاړه
شو غمخور پيدا د دې هيواد نسي

# بدي خاطرې

راته پاته ډېرې بدي خاطرې دي
په غوږو کې د وحشي حیوان نارې دي

په لیدو سره آواز د خولې نه وزي
ګنګوسی یم چې داخنګه قوارې دي

د خبرو مجال نه دئ راته پاته
یا د لاس او یا د سترګو اشارې دي

د غمجنو اوښکو سیل پر مخ بهیږي
د زړګي د وینو پورته فوارې دي

د علاج دارو یې نه دئ پیدا سوی
طبیبان نه د علاج، نه د چارې دي

ستا په داد خدائ رسیږي ریشا خواره
نور دي ټوله کو ښنښوبې وارې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منافق

مخامخ چې درته ناست وي، جان، قربان به درته وايي
که دې سترګې سوې نه وي، بدګويي يې پس شا وي
هسې خلک منافق وي، چې زړه، خوله يې يوه نه وه
ستا پر غم درسره ژاړي، پشلا کوي خنداوي
په دوستۍ يې باور نسته، وې دوستي يې په دروغو
ظاهر ځان بولي تېروني، دښمني يې بيا په غلا وي
په ظاهر جار و قربان او په لباس يې خطا مه سه
باطني خوی و خصلت يې، د انسان نه وي بلا وي
هوښ کوه! د هسې خلګو په ګفتار سره تېر نه وزې
چې وينا، عمل يې دواړه، يو د بل سره جلا وي
همېشه د صادقانو سره دوست و همنشين سه
د کاذب او دروغجن ځخه دوري دي دريشا" وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوږ لاس کوږ مغزی

د همت ښبنتنان طمع دچا نکړي
شهامت به په خشم و سودا نکړي

نه کوږ لاس ؤ کوږ مغزی نیسي وچا ته
او په لاس کی به د فقر عصا نکړي

بې همت وي چې د بله مفت غواړي
بې همته بیا هم وړکړه وړیا نکړي

خپله خوري خپله ګټي لږ وي که ډیره
د بل مال لره به اوږ د لاس دغلا نکړي

دا کس نه دی چه غیرت کې تړ پښو لاندي
او پر خپلو لاسو، پښو اتکا نکړي

هسي ډیر مفت خواره سته په جامعه کښې
په دړواغو داخبره ریشا نکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برګ کتل

چې پر لاړ ځي برګ کتل يې ځوروي
په پړه دي اشاره خپل يې ځوروي
برګ کتلو يې پر سر اوړونه بل کړه
مغز جوش وخوړ کوګل يې ځوروي

برګ کتل که وي څو ورځې زغمل کيږي
په کلو کنداغ وهل يې ځوروي
بېګانه وويې خپلوان دي بد راه کړي
چې رښتيا سي ګواکي بل يې ځوروي

حق دئ چيرې چې خپل ځان ورله تسليم کړي
د سوتي په زور منل يې ځوروي
ولې برګ، برګ ورته ګوري، خو انسان دئ
له دې لارې څه وتل يې ځوروي

د وجدان دادګاه که هر چيرې پيدا سوه
ريښا هم ورځې چې تل يې ځوروي

# بنه انګور چغال وهي

څوک چې یې پر مېنځ هم یې پرنال وهي
خر د دوی د آس سره چهار نال وهي
وي به، چې د باغ قواله ستا څه وي
امّا، هغه بنه انګور چغال وهي
څوک وای چې حق دي منم وي غواړه
څوک بیا مخامخ دي سرمال وهي
چا ډامبري لار په ځینو وړانه کړه
بل بیا کښت ته مخکه په دوپال وهي
ماغو بنته تعمیر دو منزله کړمه
سرای میانځ کې جاهل بنا دیوال وهي
څه سو محتسب او شرعي دُرې
ولي په شلاخومي کوتوال وهي
غلیٔ سه ریشاء فریاد و چاته کړي
تا خو هم پره دیٔ هم اندیوال وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښې نه پړ ورځې

پښې هغه کږدیو ته بیانه ورځې
زړه چې یې هابرګ کوټه کوټلۍ دۍ

لیرې په دوربین کې ور معلومه سوه
تورې دې کږدۍ کلی وتلۍ دۍ

نه بلیږي اور په دې نغریو کې
دلته دوږخې اور لګېدلۍ دۍ

پاته، تښه، توره سوله دامینه
میږي، او ښان نسته تللۍ کلی دۍ

دلته پر لاښو باندې کارګان ګرزي
شاوخوا تنې یې اچولۍ دۍ

بیا به هغه دې مینې ته راسي
یو ځل چې کوټه ورغورځېدلۍ دۍ

ځې د ښامار اړخ ته اتراغ کوي
پلار د دې ښامار ریشا څیچلی دۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آینده نتیجه

هر ډول مستي نن ورڅ کولای شي
هر قسم ډېرې په چا وهلای شي
تا نن ډېږي وسو واک اخیستی دی
تو له په یوه ونډ ترلای شي
تا د میادې لوی تور اودلی دی
ته لا هوائي مرغان نیولای شي
داسي اسلحې دې سازي کړي دي
لیري و نژدې هدف ویشتلای شي
لوی کراته بازې چالاکي لري
هر ځای څپل حریف را غځولای شي
حرص دي نه مړېږي چي هر څونه خوړې
هر څه په سرا بنتوب سره خوړلای شي
ته که آینده ته نظر واچوې
ځنګه نتیجه ځني ایستلای شي
وبنیه رېښتیا چي دا ته څوک بنیې؟
ما ته دا بنیلي را بنوولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بیت المال موزګان

کښېږدی ژر تلکي موزګانـــوتـــه
دا د بیت المال رشوت خورانو تــــه
وې نیسئ ترڅټ عدل تې وسپارئ
ورکړئ سزاګاني خـــائینانوته
ونغاړئ کمبلـه د فساد، رشوت
وغورځوئ فــرش وصادقانــوتـــه
چاکه د ملت په سر سودا کول
مه ورکوئ ســـر دې تاجرانوته
چاکه حقیقت په توپک وویشتي
تېنګه چکه ورکړئ جاهـــلانوته
هرڅوک چي خدمت په صداقت کوي
وسپارئ اختیار وخــادمانـــوتـه
نن ورځ ریښا هر ملت پوه سوئ دئ
ځان به خوشي نـکړی ناپوهانوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه شرم نه حیا

مخ دي پرته کړه د هرچا میراث خوره
حرام خوره تاته وایمه مخ تــوره

د عالمه دي نه شرم، نه وایه سته
چي د بل پېتي دي لاندي کړ په زوره

جنتونه جوړوې د ځان د پاره
نه بېرېږې د دوزخ له سخته اوره؟

په ژوندني که دي غاړي خلاصي نکړي
نه خلاصېږي پسله مرګه ړوند پوره

د سیسي دي زما د ځګي باغ کړي جوړي
تاکړه لاندي زه دي وایستم د کوره

ولي د ومري بې غوري سوه په جهان کي؟
ولي نسوه د ظالم کاسه نسکوره؟

د ریشا د زړه د خروښه غلبلي دي
د فشار حمله بې واستوي تر ګوره ۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**